# څلوریځی

چی د ژبی  په پلمه نقا ضتونه زیاتوی

که پښتون وی یا تاجک وی دخپل پلار سره غول خوری

داوطن دافغانان دی ای غلیمه پی پوه شه

افغانان که سره یو شو ستا به ژامی ماتوی

کریفلد جرمنی   داپریل یولسم   دوکتور ( مل)

# دپسرلی په درشل کی

دوطن دغرو لم ن کی سور غاټول بیا ټوکیدلی

دهوسیو پښو لاندی سره غالی بیا غوړیدلی

بیا شبنم ته دغاټولو گلان جام په سرنیولی

بهاری بوراگانوته شیره جام کی خپل ساتلی

توتکیو په نغمو خپل، دبهار سندری وایی

بلبلان له گل تاویږی ، کرشمی دگل منلی

بوراگان په گلبرگو کی رازدمینی گل ته وایی

بلبلان له قهره ریږدی ریبار گل ته چا لیږلی

دچمن په هر یو گوټ کی دمرغانو چیغه هاردی

سپین هیلی اوبو کی لامبی خپل وزرونه غوړولی

ددرو، زرکی ، درو کی خرامان گر ځی

له یو تالی نه بل تالی ته په ځغاسته رسید لی

پسرلی دی خلک وځی تما شا دګلو کا ندی

دافغان پیغلو وربل کی دسنځل ګلان ټومبلی

تل آباد اوسی وطنه چمنونه دی زرغون وی

په دوعا سره (مل) تل شادابی دستا غوښتلی

جرمنی داپریل لسمه